مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

دوکتور محمد عثمان تره کی ۲۰۲۶ / ۰۴ / ۲۵

# د ډیورنډ د موافقه لیك حقوقي ارزونه

(آرشیف)

افغانستان انټرنېشنل په داسي حساسو شرایطو کې، چي افغانستان د پاکستان د تجاوز پر وړاندې په دفاعي جګړه کي شکیل دی، د پاکستان د استخباراتو په لمسون داسي توطئه پیل کړې ده چي موخه یې د ډیورنډ کرښي د پېژندني په محور کي قومي نفاق ته زمینه برابرول دي.

د کورنیو جګړو له مجرمینو څخه یو تن، چي محقق نومېږي، د پاکستان په وکالت د ډیورنډ د ملي داعیې پر ضد د دښمن د توطئي په مرکز کي ځای نیولی.

هغه څه چي تمه کېده، رسنیو او مطبوعاتو افغانستان دشمنانو ته عبرت ښونکي ځواب ویلی. سره له دې لاندي مقاله چي ځو کاله مخکي لیکل شوی ده، د تو پاني اعتراضاتو امواجو لاس ته سپارم تر څو چي دشمنان وپوهیږي چي افغانستان خاوند لري.

* * *

**سریزه – د موافقه لیك د حقوقي اړخ لنډ تاریخ:**

د نړی د نقشي پر مخ د افغانستان د اوسنیو پولو د تثبیت څخه نږدې یوه پېړی تېرېږي. د افغانستان د پولو په ټاکنه کې روسانو او انګریزانو د خپلو استعماري غرضونو د تحقق په خاطر په کافي اندازه لاس درلود.

که د ډیورنډ کرښه (۱۸۹۳ زکال) د افغانستان د نورو پولو سره پرتله کړو ، دغه تریخ واقعیت په ډاګه څرګندېږي چي د کرښي په غځولو کي هېڅ ډول بشري، جغرافیایي او حقوقي ملاحظات په نظر کي ندي نیول شوي.

په هره اندازه چي د ډیورنډ د موافقتنامي د لاسلیك د نېټي څخه لرې کېږو په همهغه معیار، د افغانستان د خپلواکی سیاسي او دیپلوماتیکه بڼه غښتلي کېږي او ورسره افغاني واکمنان د ډیورنډ د کرښي په وړاندې د احتجاج او اعتراض پیاوړتیا او سیاسي ظرفیت تر لاسه کوي.

په افغانستان کي د ډیورنډ د موافقه لیك د مطرح کېدو څخه ۱۱٤ کلونه تېرېږي. پدغه موده کي ۱۸ حکومتونو په کابل کي قدرت قبضه کړی دی.

له هغي جملي نه څلورو لومړنیو حکومتونو د ګواښ او فشار لاندې د ډیورنډ کرښه منلي او ۱۴ نورو حکومتونو د هغي په وړاندې په رسمي یا غیر رسمي توګه اعتراض او احتجاج ښودلی دی. ان تردې چي د ډیورنډ قضیه د افغانستان په بهرني سیاست کي ستر ځای موندلی دی.

د نړیوالو حقوقي تعاملاتو پرخلاف ، انګریزانو د افغانستان خپلواکي ، د افغاني لوري لخوا د ډیورنډ کرښي د منلو سره وتړله.

د کابل موافقه لیك په دویمه ماده کي چي په ۱۹۲۱ م کال کي د برتانوي هند او اماني حکومت تر منځ لاسلیك شو، راغلي دي :

« دواړې خواوې د هند او افغان پولي په هغه شان چي د راولپنډی د ۱۹۱۹ م کا ل د اګست په اتمه نېټه د موافقه لیك په پنځمه ماده کي څرګندې شوې وې، مني ». که یې نه مني انګلستان دیته نه حاضرېږی چي د افغانستان خپلواکي په رسمیت وپېژنی.

په قبایلي سیمو کي څو پېښي د دې لامل شوې، چي په هند کي د انګریزي حکومت د نسکورېدو څخه وروسته او د پاکستان له جوړېدو څخه مخکي د لومړي وزیر، شاه محمود خان حکومت د ډیورنډ موافقه لیك په یوه اړخیزه توګه باطل اعلان کړی. دغي پېښي پدې ډول وې:

- په پښتونخوا کي د انګریزانو پر ضد د خان عبدالغفار خان په مشری آزادي غوښتونکي تحرکات.
- په (بنو) کي د یوې لویې جرګې جوړېدل، چي په هغه کي د پښتونخوا د یو مستقل دولت د جوړېدو په اړوند بندوبست وشو.
- په کابل حکومت باندې د پښتونخوا قومونو د جرګې د استازیو فشار چي د پخوا په شان کابل ته راتلل.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

شاه محمود خان د خپل حکومت دریځ په ۱۹۴۷ م کال د جولای په ۳۱ مه د برتانیې د بهرنیو چارو وزیر ته وړاندې کړ. دغه دریځ د حقوقو د موازینو سره کاملاً سمون درلود. پدې مانا چې : «هر دولت د خپلو ګټو د تشخیص او ملاتړ قاضي ګڼل کېږي. یو دولت کولای شي پخپل مسوولیت په یوه اړخیزه توګه بل لوري ته د یو یاد دا شت په استولو سره هغه تړون ملغا اعلان کړي، چې ورڅخه زیانمن کېږي». [۱]
په ۱۹۴۷ م کا ل د پاکستان د رامنځته کېدو نه وروسته په هغه موافقه لیك کې چې د علي جناح (د پاکستان ولسمشر) او د افغانستان د استازي نجیب اله «توروایانا» تر منځ په کراچۍکې لاسلیك شو، د آزادو قبایلو سیمه له صوبه سرحد او بلوچستان څخه جلا وپېژندل شوه. د علي جناح د مړینې څخه وروسته، خواجه نظام الدین د پاکستان نوي ولسمشر د مخکنۍ موافقې څخه سرغړونه وکړه.
پرته د افغاني حکومتونو څخه د اوومې دورې شوراُ هم د جولای په ۱۹۴۹ م کال د کرښې پر ضد دریځ ونیو.
په هر حال! وروسته د دغه لنډ تاریخي پس منظر څخه حقوقي بحث ته ننوځو. مخکې له دې نه باید دغه واقعیت په نظر کې ونیسو چې افغانستان هېڅ وخت د انګریز مستعمره (coloni) نه و بلکې تحت الحمایه هېواد (protectorat) ګڼل کېده. [۱]
موږ د ډیورنډ موافقه لیك حقوقي باور هغه وخت په ګوته کولی شو، چې له یوې خوا دنړیوالو تړونونو د تصویب عمومي پروسیجر ( طرز العمل) ته نظر واچوو، او له بلې خوا دبین المللي تړونونو د اعتبار حقوقي معیارونه له نظر څخه ونه غورځو. دواړه موږ ته د ډیورنډ د موافقه لیك د حقوقي ارزونې وسیله په لاس راکوي.

## لومړی: د یوه بهرني تړون د تصویب او نافذیدو پروسیجر پدې ډول دی: [۳]

۱- تړون باید د دواړو هېوادونو د ذیصلاحو استازیو لخوا لاسلیك شي. دغه صلاحیت د اساسي قانون لخوا متعاقدینو ته ورکول کېږي. بین المللي حقوق پوهان پدې باور دي چې په بین المللي حقوقي نظام کې د اساسي قوانینو ضوابط په کافي اندازه نفوذ لري. آن تر دې چې د یو هېواد د اساسي قانون د حکمونو، نه مراعات د تړون د باطل کېدو لامل ګرځي.
اوس راځو دیته چې د موافقه لیك په اړه دغه شرط په ځای شوی دی که نه ؟
الف – د ډیورنډ تړون د برتانوي هند د بهرنیو چارو د وزیر (ډیورنډ) او د افغانستان امیر (عبدالرحمن) تر منځ لاسلیك شو.
امیر مطلقه پادشاه و او اصلاً د اساسي قانون سره آشنا نه و. بناً نوموړي د کوم اساسي قانون د حکمونو له مخې د افغانستان د خلکو استازیتوب او د تړون د لاسلیك کولو صلاحیت نه درلود.
ب – دغه مطلقیت د افغانستان په د ننه کې مطرح و. د هېواد بهرنی سیاست د انګریزانو له خوا تر کنټرول لاندې و. له همدې کبله د ډیورنډ د موافقه لیك په پروسیجر کې د امیر حقوقي او سیاسي باور د انګلستان د هند د مستعمرې د یو وزیر یانې ډیورنډ سره په یوه کچه کې واقع و.
۲- بین المللي تړون باید د خلکو د استازیو له خوا په پارلمان کې تصویب شي.
داسې اسناد په لاس کې نلرو چې موافقه لیك د انګلستان د عوامو د مجلس له خوا تصویب شوی وي. اما په ا فغانستان کې هغه وخت پارلمان موجود نه و. بر خلاف د موافقه لیك د نېټې نه مخکې لږ تر لږه د یوې نیمې پېړۍ په موده کې لویه جرګه موجوده وه. د تحت الحمایه افغانستان امیر جرئت ونکړ چې پدې موضوع باندې د لویې جرګې د استازیو له مخالفت او مقابلې سره مخ شي.
بناً د ډیورنډ د موافقه لیك د لاسلیك په ترڅ کې د یو عادي منل شوي تړون د دویم پروسیجر څخه سر غړونه شوې ده.
۳- تړون باید د هېواد د عالي ترینې مرجع یانې د دولت د رئیس له خوا وشي. دا یوازینی شرط دی چې پر ځای شوی و.
۴- تړون باید په رسمي جریده کې خپور او اعلام شي. دغه تجویز د تړون د انفاذ مانا ورکوي. په هغه وخت کې افغانستان دولتي منظم نظام نه درلود. بناً دغه عملیه تر سره نشوه. عام ولس د موافقتنامې له محتویاتو څخه بې خبره پاتې شو. وروسته مورخین پدې برخه کې چې آیا امیر، انګلیسي ، دری متنونه او ورسره مل نقشه ټول لاسلیك کړي دي که نه، اتفاق نظر نلري. ځینې یې داسې نظر لري چې ګوندې امیر د موافقه لیك د دري متن سره مل نقشه باندې لاسلیك ندی کړی او د موافقه لیك په متن کې د دواړو هېوادونو تر منځ د پولې کلمه هم نده ذکر شوې.
بناً د ډیورنډ د موافقتنامې په لاسلیك کېدو سره د یو عادي تړون د تصویب د شکلیاتو څلورم شرط هم ندی پر ځای شوی.
۵- موافقه لیك باید په اتفاق سره، د دولتي اړخونو لخوا په نړیوالو سازمانونو کې چې وروسته جوړ شول لکه د ملګرو ملتونو د تړونونو په آرشیف کې ثبت شوی وای. دغه عملیه هم تر سره نشوه.
بناً د ډیورنډ موافقه لیك د پنځو شکلیاتو او شرطونو څخه چې یو نړیوا ل باوري تړون ورباندې بناء دی، یوازې یو فرعي شرط پر ځای کړی او څلور بنسټیز شکلیات یې له نظر څخه غورځولي دي.
د یو بین المللي تړون اعتبار یوازې د حقوقي شکلیاتو له رعایت سره تړلي ندي. نور شرطونه هم ور سره مل دي،


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

چې په لاندې ډول ورته اشاره کېږي:

**دويم – د نړيوالو تړونونو د حقوقي باور بنسټيز اصول:**

يو تړون د نورو حقوقي توليداتو په څېر هغه وخت دوامداره حقوقي اغيزمنتوب درلودلای شي چې د اعتبار وړ وي.

۱- د تړو ن لاسليك كوونكي بايد اهليت ولري ياني د نړيوالو حقوقو لوبغاړي لكه دولتونه يا بين المللي موسسات وي.

۲- د تړون موضوع بايد مشروع وي. مثلاً د ذروي وسلې صادرات، د يو تړو ن موضوع كېدای نشي.

۳- متعاقدين بايد آزاده اراده ولري. آزاده اراده د متعاقدينو بې غل او غش رضايت څرگندوي.

اوس د مخكنيو توضيحاتو په رڼا كې، د ډيورنډ موافقه ليك حقوقي اعتبار، تر څېړنې لاندې نيسو:

۱- د تړو ن د لاسليك كوونكي اهليت : د ويانا د ۱۹۶۹ م كا ل د شپږمې مادې د كانوانسيون له مخې په نړيوالو حقوقو كې يوازې يو خپلواك دولت او يوه بين المللي موسسه د بين المللي حقونو د متصدي يا فاعل په توگه د يو بين المللي تړون د لاسليك كولو اهليت لري.

د بين المللي حقوقو ټول پوهان پدې نظر دي چې : « كله چې يو هېواد تحت الحمايه ( پروتكتورات) وي، يوازې حامي دولت ( پروتكتور) د بين المللي تړون د انعقاد حق او صلاحيت لري». [۴]

پدې اړه تاريخي مثالونه زيات دي، موږ د يو مثال په ويلو اكتفا كوو: كمبوديا په ۱۹۴۱ م كا ل كې د فرانسې تحت الحمايه و. په همدغه كا ل كې فرانسې د حامي ( پروتكتور) دولت په توگه د تايلنډ سره د كمبوديا د پولو د تعيين په مقصد يو تړو ن لاسليك كړ.

د امير عبدالرحمن په وخت كې افغانستان تحت الحمايه هېواد و. د هېواد د بهرني امنيت او باندني سياست اداره، د انگريزانو په لاس كې وه. يوازې انگريزانو د بين المللي تړون د انعقاد اهليت او صلاحيت درلود. افغان تحت الحمايه دولت د بين المللي تړون د انعقاد څخه بې برخې و.

دغه واقعيت چې انگريز او تزاري روس په ۱۸۷۳، ۱۸۷۷ او ۱۸۹۵ م كلونو كې د افغانستان د شمالي پولو په تعيين كې رول درلودل [۵]، دا ثابتوي چې هېواد په خپل بهرني سياست كې د انگريزانو تر استعماري تحكيم لاندې او يو تحت الحمايه دولت و. بناً ديو بين المللي تړون د لاسليك كېدو حق يې نه درلود.

۲- د تړون مشروعيت: د ۱۹۶۹ م كا ل د ويانا كانوانسيون په خپل ۵۳ ماده كې ليكي : « هغه تړون باطل شمېرل كېږي چې د انعقاد په وخت كې د بين المللي حقونو د عمومي موازينو سره په تضاد كې قرار ولري.»

دغه موازين په مجموعي توگه د نړيوالې ټولنې لخوا منل شوي او تر هغه وخته پورې اعتبار لري چې نوي حقوقي اصول د هغو ځای ونيسي.

د ډيورنډ د موافقه ليك موضوع د پولو تثبيت و. بناً پدې اړه د تړون مشروعيت تر سوال لاندې نه راځي.

۳- د متعاقدينو آزاده اراده : هغه لاملونه چې د متعاقدينو په آزاده اراده باندې اغيز اچوي او د يو تړون د بطلان سبب گرځي او د كورنيو حقوقو څخه يې بهرنيو حقوقو ته لار موندلې، پدې ډول دي: اشتباه ( تېروتنه ) ، غَبن او خشونت.

نوموړي سببونه هر يو كولای شي چې د متقاعدينو بشپړ رضايت او خپلواكه اراده تر سوال لاندې راولي او نهايتاً د تړون د بطلان لامل وگرځي.

د بطلان د درې گونو سببونو څخه موږ يوازې په غبن او خشونت باندې چې زياتره د ډيورنډ د كرښې په اړه مطرح كېږي رڼا اچوو:

الف – غبن په مختلفو ډولونو مطرح كېدای شي:

بډې يا رشوت له همدې جملې څخه گڼل كېږي. د بډو وركولو موخه د بډې وركوونكي په گټه د هغو خبرو اترو اړول دي چې د تړون د لاسليك په بهير كې كېږي.

د ۱۹۶۹ م كال د ويانا دكانوانسيون په ۵۰ مه ماده كې بډې د متعاقدينو د آزادې ارادې د سلبولو لامل وباله، چې په كلكه د تړون اصوليت تر سوال لاندې راوستی شي.

د ډيورنډ په موافقه ليك كې د مستر ډيورنډ لخوا افغاني لوري ته په بربنده توگه د «مستمرۍ» تر نامه لاندې د بډو وركولو ته اشاره شوې. موافقه ليك پخپله اوومه ماده كې ليكي : « د هند دولت د هند په وړاندې د امير حسن نيت ته هر كلی وايي او نوموړي ته اجازه وركوي چې د خپلو اړتياوو وسلې د هند د خاورې له لارې ترلاسه كړي» . اومه ماده زياتوي: « برسيره پردې، د دې په خاطر چې امير د دې معاملې پرسر باندې خپله دوستانه دريځ څرگند كړی د هند دولت د امير مستمرۍ د دوولس لكه روپيو نه تر اتلسو لكو زيات كړي».

ب - اجبار او تشدد: كه د يو دولت د استازي په وړاندې وي يا په خپله د دولت پر سر باندې په قطعي ډول د يو تړون د اصوليت رېښې له بېخه باسي او باطلوي يې.

د ويانا كانوانسيون په ۵۱ مه ماده كې وايي : « يو تړون چې د يو دولت په استازي باندې د گواښ او فشار په وسيله



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همكاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيكه ټينگه كړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليكني د ليكنيزې بڼې پازوالي د ليكوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليكنه له راليږلو مخكې په خير و لولئ

وترل شي، هېڅ يو حقوقي اغيز درلودلای نشي او بالکل باطل دی». [۶]
په بين المللي حقوقو کي له پخوا زماني راهيسي په يو دولت باندې نظامي، سياسي يا اقتصادي فشار، د يوتړون د انعقاد په مقصد، د تړو ن د بطلان د يو لامل په توګه پېژندل شوی او په لاتيني اصطلاح «لاکس لاتا» افاده شويدې.
د ويانا کانوانسيون په ۵۲ مه ماده کي نوموړی حقوقي حالت داسي راغلی : « هغه تړون چي د ګواښ يا زور د استعمال پر بنسټ تصويب شي او د هغو بين المللي حقوقو د ضوابطو سره چي د ملګرو ملتونو په منشور کي منعکس شويدي، مخالفت ولري، باطل اعلانيږي.»
د تاريخ په اوږدو کي هغه تړونونه چي د زر او زور له لارې تصويب او ورپسي باطل اعلام شوي دي زيات ليدل کيږي. موږ دلته څو مواردو ته اشاره کوو:
- په ۱۹۰۵ م کال کي جاپان «سيول» اشغال او کوريايي استازي ديته اړ کړل چي يو تحت الحمايګي تړون ته غاړه کيږدي. تړون سره له دې چي ۴۰ کاله تر اجرأ لاندې و د جاپان له ماتي څخه وروسته په ۱۹۴۵ م کال کي باطل اعلام شو. [۷]
- په ۱۹۳۹م کال د مارچ په پنځلسمه د چکوسلواکيا ولسمشر «هاشا» او د هغه د بهرنيو چارو وزير، د هټلري المان تر فشار لاندې ديته اړ شو چي د تحت الحمايه تړون په چوکات کي«بوهم» او «موراوي» المان ته وسپاري.
د المان د ماتي نه وروسته، تحت الحمايګي تړون ملغا او نوموړي ايالتونه بيرته په چکوسلواکيا پورې وتړل شول.
د « نورنبرګ » نظامي محکمي په ۱۹۴۶ م کال د اکتوبر په لومړی نېټه د يو حکم پر بنسټ د نوموړي تړون له بطلان سره خپل توافق څرګند کړ.
- په ۱۹۴۱ م کال کي کمبوديا د فرانسي تحت الحمايه و. په فرانسه باندې د جاپان لخوا نظامي فشار، نوموړی هېواد ديته اړ کړ چي له تايلنډ سره د پولو د تثبيت په اړه يو تړون لاسليك کړي. تړون د کمبوديا ځمکنی بشپړتيا سخته زيانمنه کړې وه. د جاپان له ماتي نه وروسته فرانسي اعلام وکړ چي تړون د نظامي ګواښ تر فشار لاندې شوی و او د تحت الحمايګي نظام سره يو ځای ملغا اعلانيږي.
امير عبدالرحمن د ډيورنډ د موافقه ليك د لاسليك کولو پر وخت د سختو نظامي يرغليزو ګواښونو سره مخ و: د برتانوي هند حکومت په بيره د اورګادي کرښه د چمن نه کندهار او له پېښور نه خيبر خواته غزول او په کوټه کي يې په عسکري مانورو لاس پورې کړی و.
که موږ د يو تړون د بطلان نور فکتورونه په پام کي هم ونه نيسو پر امير باندې د افغانستان د نظامي اشغال فشار کفايت کوي، چي د ډيورنډ د موافقه ليك مشروعيت تر سوال لاندې راولي او درباندې د بطلان خط وکاږي.

**دريم – د يو تړون د نسبيت ( Relati vité ) اصل:**

د لاتين په حقوقي دود کي د يو تړون نسبيت په لاندې ډول څرګند شوی دی:
(Pacta tertis nec nocentnec prosunt) . ياني « يو تړون د يو ثالث لپاره وجيبه او حق نه زيږوي.»
موږ پدې اړه بايد په تفصيل وغږيږو ځکه چي د ډيورنډ موافقه ليك د تحت الحمايه افغانستان او حامي يا پروتکتور انګلستان تر منځ منعقد شوی و، نه د افغانستان او پاکستان تر منځ. پاکستان د ډيورنډ د موافقه ليك د رامنځته کېدو په وخت کي اصلاً شته والی نه درلود.
په نړيواله کچه قضايي رويه ( Jurisprudence international ) او د دولتونو چال چلند ( Pratique ) پدې متفق دي چي يو تړون د دواړو هېوادونو تر منځ لاسليك کيږي په يو ثالث هېواد باندې حقوقي اغيز اچولی نشي. پدې اړه مثالونه زيات دي:
الف. المان د شلمي پيړي په سر کي د پولنډ د يوې سيمي په وړاندې چي «اوت سيليزي» نوميږه ځمکنی دعوا درلوده.
د بين المللي عدالت نړيوا ل ديوا ن ( ب، ع، ن، د ) په ۱۹۲۶ م کال د مي په ۲۵ مه نېټه په خپل اووم نمبر حکم کي تجويز وکړ چي : « يو تړون يوازې متعاقد دولت ته حق او مکلفيت ورکولی شي نه ثالث دولت ته ». د عدالت بين المللي ديوان ( ع، ب، د ) نوموړی حکم تائيد کړي.
ب – د « ع، ب، د» د الوتکي په يوه پېښه کي چي په ۱۹۵۵ م کا ل د جولای په ۲۷ مه نېټه واقع شوه او د بلغاريا او اسرائيلو تر منځ يې شخړې رامنځته کړې، داسي حکم وکړ چي د ديوان د اساسنامي ۲۶ مه ماده د يو ثالث دولت په اړوند حقوقي اغيز نلري.
په نړيواله کچه په مختلفو قضاياوو کي د حکميت پريکړې د « ب ، ع، ن، د » او د « ع، ب، د » د تائيد په استقامت صادري شويدي.
ج – جنرال دوګول د فرانسي پخواني ولسمشر په ۱۹۴۵ م کا ل د فبرورې په پنځمه نېټه د «يالتا» کنفرانس له جوړېدو څخه مخکي وويل: « فرانسه ځان د هغو تړونونو د اجرأ مکلف نه ګڼي کوم چي يې د خبرو اترو په جريان کي ګډون نه درلود». د همدغه دريځ په تائيد د «بن» د ۱۹۷۵ م کا ل د اکتوبر د ۱۴ نېټي په اعلاميه کي راغلي و:


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

« فرانسه، انګلستان، شمالي ايرلنډ او امريكا په ډاګه اعلاموي چې د دوی تر منځ تړل شوي تړونونه په يو ثالث دولت باندې حقوقي اغېز اچولی نشي».
بالاخره د ويانا كنفرانس د اعلاميې په ٣٤ ماده كې، له محتوا څخه ډك مخكنی حقوقي دود او دستور په لاندې عبارت كې مسجل شو: « يو تړون د ثالثو دولتونو په اړه هېڅ حق او وجيبه توليدولی نشي».
د ټولو مخكنيو توضيحاتو څخه څرګندېږي چې د ډيورنډ د موافقه ليك اصلي اړخونه تحت الحمايه افغانستان او حامي يا پروتكتور انګلستان شمېرل كېږي. پاكستان د ډيورنډ د استعماري توطيې له كړی څخه لرې پاتې كېږي.
بناً موافقه ليك پاكستان دولت ته هېڅ حق يا وجيبه نه په برخه كوي.
## څلورم – د دولتونو د وراثت موضوع:
د ويانا د ١٩٧٨ م كال كانوانسيون په پنځلسمه ماده كې وايي: « په عادي او عمومي حالاتو كې كله چې يو دولت د بل دولت ځای ونيسي، وارث دولت د مخكني دولت د حقونو او وجايبو د ميراث مستحق ګڼل كېږي».
غټ سوال دا دی چې آيا هغه دولت لكه پاكستان چې د استعماري دولت له منځه تګ نه وروسته، نوی زېږول كېږي د هغه تړون چې د استعمار د واكمنی لخوا منعقد شوی وي يو اړخ شمېرلی شو؟
دلته موضوع د لاندنيو موضوعاتو د طرح كېدو له كبله پېچلي كېږي:
- د نوی دولت د واكمنی حق ( سوورنته) اِعمال.
- د نورو هغو دولتونو ګټې ساتل چې د استعماري دولت سره د تړون په چوكاټ كې تړل شوي وو.
- د كثير الاضلاع تړون په اړه د بين المللي ټولنې د ګټو تأمين .
«عمومي قاعده داده چې د ښكيلاك له واكمنی نه پاتې شوی نوی دولت د مخكني دولت د معاهداتو په وړاندې د ثالث دولت حيثيت لري او د تړونونو د امتيازاتو او احياناً له وجايبونه ګټه پورته كولای نشي. په بل عبارت كله چې د يو تړون يو اړخ له صحنې څخه حذف كېږي تړون د خپلې حقوقي پشتواني څخه بې برخې او جنساً له منځه ځي.»[٨]
دلته په يوه بېلګه اكتفأ كوو: « ع، ب، د » په ١٩٩٧ م كا ل د سپټامبر په ٢٥ حكم كې د سلواكيا د نوي جوړ شوي دولت په تاوا ن هغه تړون چې په ١٩٧٧ م كا ل د «دنيوب» د سيند د شاوخوا ځمكې د وېش په سر باندې د چكوسلواكيا او هنګري تر منځ شوی و، ملغا اعلام كړ.
د مخكنيو توضيحاتو څخه داسې څرګندېږي چې د پاكستان دولت چې د ښكيلاكګر برتانوي هند د واكمنی د نسكورېدو څخه وروسته جوړ شو، د ډيورنډ د تړون د مفاداتو نه بې برخې پاتې كېږي. ان تر دې چې د ډيورنډ د كرښې په سر باندې اغزن سيم غزول هم، د حقوقي قواعدو سلامتيا او بشپړتيا ته تاوان رسولی نشي.
## پنځم – د يو تړون د اجرا او تطبيق پروسيجر:
د دې لپاره چې يو تړون عملي او تطبيقي بڼه غوره كړي مختلف پروسيجرونه موجود دي:
الف – د يو ثالث دولت ضمانت مثلاً امريكا په ٢٠٠١ م كا ل كې د اسرائيلو او مصر تر منځ د تړون د تطبيق ضمانت په غاړه واخيست.
ب – د څارني بين المللي كميسيون هغه مورد دی چې په ١٩٥٤م كا ل كې د «ژنو» د معاهدې په بنسټ باندې د «لاهوس» د ناپليتوب د موافقه ليک د اجرأ په مقصد جوړ شو.
ج -- د موقوت بين المللي كانفرانس تدوير، چې د ويانا د١٩٨٥ م كا ل د مارچ د٢٢ نېټې كانوانسيون لخوا تجويز شوی دی.
د – د تحقيق كميسيون چې د تړون د اړخونو نه جوړ شوی وي او د معاهدې د احكامو د سر غړونې نه راپور تنظيم او نهايتاً « ع، ب ، د » ته وړاندې كړي.
د ډيورنډ د موافقه ليك د اجرأ په اړه هېڅ يو ضمانت نه وو ټاكل شوی. بر خلاف د قراينو نه څرګندېږي چې موافقه ليك د همهغه لومړيو ورځو څخه تر اوسه پورې په عمل كې وجود نلري. پدې مانا چې:
الف – په تيرو كلونو ولسونه د ډيورنډ د كرښې په دواړو خواوو كې بې له پاسپورت د شكلياتو څخه تګ او راتګ كول.
ب – ازاد قبايل په بشپړه توګه د پاكستان په سياسي او حقوقي نظام كې ندي جذب شوي. دوی اكثراً پوځ ته عسكر او حكومت ته ماليه نه وركوي او خپل ملي هويت يې ساتلی دی.
ج – د تاريخ په اوږدو او په ځانګړي توګه د مقاومت او جهاد په وخت كې د لراوبر ولسونو تر منځ جذباتي او عاطفي اړيكې د دې لامل شوې چې د ډيورنډ كرښه «عملاً» له منځه لاړه شي.
## نتيجه
الف – د حقوقو د «تيوری» له نظره د ډيورنډ موافقه ليك د توجيه وړ بڼه نلري. په «عمل» كې هم د نومړي موافقه ليك اجرايي شته والی تر سوال لاندې دی.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همكاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيكه ټينګه كړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليكني د ليكنيزې بنې پازوالي د ليكوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليكنه له راليرلو مخكي په خير و لولئ

ب – د ډیورنډ کرښه ګډه کرښه ده. پاکستان پرته د افغانستان د موافقې نه حق نلري چې د کرښې په جوړښت، چې په زیاتو سیمو کې ندی تثبیت شوی په خپل سر بدلون راولي او یا د اغزن سیم په غځولو یا د مین په ایښودلو د هغه استقامت وټاکي. دغه کار د افغانستان په خاوره باندې ښکاره تیری ګڼلی شو.
ج – اوسني حکومت د اغزن سیم د راتولولو کامپاین د پاکستان د فشار له کبله وځندول.
په اوس وخت کې افغانستان د یوه تمثیلي او ملي حکومت د درلودلو څخه بې برخې دی. اوسنی افغاني حکومت چې کورني مشروعیت او نړیوال رسمیت نلري د هېڅ یوې ملي مسألې او په ځانګړې توګه د ډیورنډ د موافقه لیك په موضوع باندې د هېڅ سره د معاملې د یو اړخ په توګه درېځ نیولی نشي. مګر دا چې دغه درېز د دیورند د نه رسمیت پېژندلو په بڼه وي.
د – باید ځیني افغاني توطیه ګرې کړی د ډیورنډ له موافقه لیك څخه د افغانستان په تاوان او د پردیو په ګټه د یوه سیاسي افزار په توګه ناوړه ګټه پورته نکړي.
ه – د افغانستان او پاکستان تر منځ د نړیوالي علایق په کافي اندازه موجود دي. باید دواړه هېوادونه په سیمه کې د متقابلې همکاري مثا ل واوسي. د ډیورنډ کرښه چې عملاً له منځه تللي باید د دواړو هېوادونو تر منځ د لا زیاتي نړدیوالي لاره پرانیزي.

فرانسه. فروری ۲۰۰۷
( آرشیف ـ تازه شوي متن )

## References


- M. Martin : Droit international public / Masson 1995
- R. Pinto : Le droit des relations internationals / Paris 1972
- Ch. Rousseau : Traite de droit international Public / Paris 1970
- Patrick Daillier : Droit international Public / Paris 2002
- Moreau – Defarges : Relations internationals / Paris 1992
- Les Nouvelles d' Afghanistan / Paris 4eme Trimestre 2000

- عبدالحی حبیبی . تاریخ مختصر افغانستان . کابل . 1989 م کال
- لودویك ادامك. تاریخ روابط سیاسی افغانستان. پشاور 1989 م کال. ( متن دری)
- غلام محمد غبار. افغانستان در مسیر تاریخ. کابل. 1967 م کال


له متن سره تړلي توضیحات:
[۱] Patrick Daillier . بین المللی عامه حقوق . پاریس . 2002 م کا ل. 211- 212 مخ
[۲] د مستعمره هېواد کورنی او بهرنی اداره مستقیماً د ښکیلاکګر قوت په لاس کې وي.
د تحت الحمایه هېواد کورنی چارې خپله اداره کوي. اما بهرنی امنیتي چارې او د بهرني سیاست واك د استعماري قوت لخوا إعمال کېږي.
[۳] Patrick Daillier . بین المللی عامه حقوق . پاریس . 2002 م کا ل. 193 مخ
[۴] M Martin . بین المللی عامه حقوق . پاریس . 2002 م کا ل . 191 مخ
[۵] د پولو په اړه د انګریزانو او روسانو لخوا په مختلفو نېټو یو شمېر هیأتونه ټاکل شوي وو. لومړی هیأت د دواړو هېوادونو د بهرنیو چارو د وزیرانو په کچه ( لار د کرینویل او پرنس ګورچکوف) جوړ شوی وو. یو بل پلاوی د انګلیسي او روسي استازي د «چارلس پت او کاپیتان کامروف» په نومونو جوړ شوی و.
[۶] Patrick Daillier بین المللی 2002 م کا ل . 193 مخ عامه حقوق .
[۷] V. P erinjaquet کوریا او جاپان. پاریس . 1910 م کا ل 536 - 553 مخ
[۸] Moreau Defarge نړیوالې اړیکې. پاریس . 1992 م 470 مخ
« پای »



آرشیف: مطالب نشر شدهٔ دوکتور محمد عثمان تره کی



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په خیر و لولئ